SHARIAT WEEKLY
شریعت
اوونیزه
په اوونی کې دوه ځله خپرېږي
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتي ارګان
پنځم کال اتمه ګڼه پرله پسې (۲۹۵) یکشنبه د۱۴۲۰هـ ق کال د شوال المکرم (۲۳) د۱۳۷۸هـ ش کال د سلواغې (۱۰) د ۲۰۰۰ میلادي کال د جنوري (۳۰)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسې ! همدا (عدل) ډېر نږدې دی تقوا(پرهیزګاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بی حرمتي بگذارید.

د چیچن د جګړې د پایلو په هکله یوه احصائیه ښیي چې :

د چیچن ۱۲٤ کلی وران او ګروزنی په کنډواله بدله شوی ده

تر اوسه ۱۱۰۰۰ تنه روسی پوځیان مړه او ۵۰۰ ټانکونه یې ویجاړ شویدی

په تیر اوړی کی د چیچن د رواني جګړې له پیل نه تر اوسه چې د روسي پوځیانو له بیا بیا وحشیانه تیریو او ددغه جمهوریت مسلمانو مجاهدینو له کلک مقاومت سره دوام لری ددغې جګړې د واړو نابرابرولو روته سخت زیانونه او د سرتاوانونه رسیدلي دي.

هغه وروستی احصائیې او ارقام چې ددغې جګړې په موده کی خپاره شویدی د روسي پوځیانو د ظلمونو او وحشتونو څرګندوی دي چې ددغې احصائیې له مخې د چیچن جمهوریت یو سلو څلوېښت کلي د روسي پوځیانو د بریدونو له امله ویجاړ شوی او د چیچن جمهوریت پایتخت ګروزني په بوی کنډوالی بدل شویدی. ددغې جګړې په موده کی څه د پاسه دیرش زره تنه چیچنیایان چې زیاتره یې ماشومان

٤ مخ

سیمینار آموزشي منسوبین ریاست ثبت و احوال نفوس به پایان رسید

سیمینار آموزشي منسوبین ریاست ثبت و احوال نفوس وزارت امور داخله که چندي قبل آغاز گردیده بود دیروز به پایان رسید.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد :

سیمینار متذکره که بمنظور ارتقاء سطح دانش و بلدیت بیشتر منسوبین ریاست ثبت احوال نفوس وزارت امور داخله در مرکز و ولایات در رابطه به اجراي بهتر امور محوله و توزیع تذکره تابعیت دایر گردیده بود بعد از تصویب لایحه در رابطه به توزیع

ص ٤

د محترم رئیس الوزراء د خواخوږي د یوه پیام په ترځ کي :

په شهادت سخت خپګان

د نوموړي پیښي د شهیدانو او ټپیانو له کورنیو سره دي سمدستي مرستي وشي

د بم ایښودونکي د اسلام او بشریت دښمنان دی

د افغانستان د اسلامي امارت رئیس الوزرا محترم الحاج ملا محمد رباني د هغې چاودني د پیښي د شهیدانو پاتي کسانو او ټپیانو ته د خپلي ژورې خواخوږي مراتب څرګند کړيدي چي تیره ورځ د پاکستان د اسلامي جمهوریت د کراچي په ښار کي وشوه .

د کراچي په ښار کي د چاودني د دردونکي پیښي له امله چي په نتیجه کي یې یو شمیر مهاجر افغانان شهیدان او ټپیان شول د افغانستان د اسلامي امارت د محترم رئیس الوزرا د ژورې خواخوږي مراتب. ددغې پیښي د شهیدانو پاتي کسانو ته څرګند شویدي او ددغې دردونکي پیښي عاملین د مسلمانانو او د بشریت دښمنان بلل شویدي او دغه اسلامي ضد او بشري ضد عمل په کلکه غندل شوېدي.

محترم رئیس الوزرا د کراچي په ښار کي د افغانستان د اسلامي امارت قونسل ته په ټیلګار سره لارښونه کړیده چي ددغې پیښي د شهیدانو له کورنیو او ټپیانو سره بیرني او ضروري

٤ مخ

مسجد جامع مرکزي ولسوالي مقر ولایت بادغیس افتتاح گردید

مسجد جامع و مرکزي ولسوالي مقر ولایت بادغیس که به مصرف یکصدو پنجاه ملیون افغاني از بودجه انکشافي امارت اسلامي افغانستان **اخیراً اعمار گردیده است دیروز افتتاح و مورد استفاده نماز گذاران قرار گرفت**

آژانس اطلاعاتي باختر از ولایت بادغیس خبر داد : مسجد متذکره در ساحه یک جریب زمین به شکل اساسي به مصرف یکصدو پنجاه ملیون افغاني از بودجه انکشافي امارت اسلامي افغانستان اخیراً اعمار گردیده و گنجایش

ص ٤

در ولایت غزني :

دستهء از سارقین دستگیر گردیدند

دسته، از سارقین اخیراً در مربوطات ولسوالي گیرو ولایت غزني دستگیر و به پنجه قانون سپرده شد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : بالأثر سعي و تلاش مؤظفین امنیتي ولسوالي گیرو ولایت غزني و همکاري مردم آنجا اخیراً جمعي از سارقین که چهل و چهار قلم اموال و هفتاد لک پول نقد را از یک دُکان سرقت نموده بود در مربوطات آنولسوالي دستگیر و غرض تحقیق به ارگانهاي ویربط سپرده شد . سارقین دستگیر شده متهم به سرقت اجناس یک منزل رهایشي نیز در این ولسوالي میباشد.

محترم مولوی عبدالکبیر معاون رئیس الوزراء:

با علماء و متنفذین ولایت لغمان ملاقات نمود

محترم مولوي عبدالکبیر معاون رئیس الوزراء و رئیس تنظیمه زون شرق دیروز در دفتر کار شان در جلال- آباد علماء و متنفذین هودخیل ولایت **لغمان را غرض ملاقات به حضور پذیرفتند .**

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : طی این ملاقات علماء و متنفذین هودخیل ولایت لغمان از پروگرام ها و اهداف عام

ص ٤

محترم وزیر آب و برق از دستگاه حرارتي سب ستیشن شمال غرب باز دید نمود

محترم مولوي احمد جان وزیر آب و برق دیروز از بخش هاي مختلف دستگاه برق حرارتي سب ستیشن شمالغرب و پروژه کمپاین سایکل بازدید بعمل آورد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد :

در این باز دید در حالیکه محترم رئیس ساختماني هلمند و محترم معاون فني برشنا مؤسسه با وي همراه بودند از چگونگي فعالیت توربین هاي برق حرارتي سوچبورد تأسیسات و تجهیزات **پروژه کمپاین سایکل و سبستیشن شمالغرب که از سوي آمر برق حرارتي معلومات ارائه میگردید آگاهي حاصل نموده در رابطه به فعال نگهداشتن تاسیسات متذکره و بهبود هر چه بیشتر امور مربوط به مسؤولین هدایات لازم داد.**

له روسی چارواکو سره :

دکوفی عنان خبری ناکامه پایته ورسیدی

په چیچن باندی دروسی یرغلګرو پوځونو دبیرحمانه تیری او جګړې دبندولو په لاره کی له روسی چارواکو سره دملګرو ملتو دسازمان دسرمنشی کوفی عنان خبری بی نیتجې پایته ورسیدی.

دنړیوالو خبری منابعو دخبر له مخی د روسیې دجمهوري ریاست کفیل ولادیمیر پوتین دروسیې دیرغلګر سیاست له مخی دملګرو ملتو د

٤ مخ

دبشري حقوقو نړیوالی اسلامی کمیتی پرچیچنیا د روسی مظالمو غندنه وکړه

قاهره : «الشرق الاوسط»

دبشري حقوقو نړیوالی اسلامی کمیتی دروسانو لخوا دچیچنیا په مظلوم مسلمان اولس دوحشي مظالمو د ژر تر ژره دریدو غوښتنه وکړه .

نوموړی اسلامی کمیتی له ټولو اسلامی دولتونو ، دامنیت شوری له غړو هیوادونو او د بشري حقوقو ددفاع له سازمانونو څخه په کلکه غوښتی دی چی دغاصبو روسانو

٤ مخ

دتورخم په سرحدی ښارکی دیوه جومات دبنسټ ډبره کیښودل شوه

دننګرهار ولایت په سرحدی ښار تورخم کی دیو جومات دبنسټ ډبره کیښودل شوه

- دتورخم له ښار څخه دشریعت اوونیزې خبریال خبر راکړ په هغه غونډه کی چی له همدی امله دتورخم په ښار کی جوړه شوی وه او دتورخم ټولو مسئوولینو په کی ګډون کړی و لومړی د قرآن عظیم الشان څو مبارک ایتونه ولوستل شول ګټووینا والو داسلام دسپیڅلی دین په رڼا

٤ مخ

دجنرال مالوفیف داقرار له مخی :

دګروزنی دنیولو نیتهه ناکامه تیره شوه

مسکو : چیچنیا یی مجاهدینو څرګنده کړی ده چی روسی جنرال میخایل مالوفیف چی ددوی سره بندی دی ، اقرار کړی چی ده ته دروانی میاشتی (جنوری تر (۲٦) نیتی پوری په ګروزنی دورختنی اړه بالیتوب قومانده ورکړی شوی وه ،

٤ مخ

درمربوطات ولایت پکتیکا :

مقدار ده کیلو گرام چرس کشف و حریق گردید

مقدار ده کیلو چرس که اخیراً توسط مؤظفین امنیتي ولسوالي ارگون ولایت پکتیکا کشف و به دست آمده بود دیروز بعد از اداي نماز جمعه در محضر هزاران تن از اهالي آنولسوالي حریق گردید.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : مؤظفین امنیتي قوماندانی امنیه ولسوالي ارگون ولایت پکتیکا به ادامه فعالیت هاي شان جهت از بین بردن عوامل انحرافات اخلاقي و مبارزه با جرایم ص ٤

دکابل ، لوګر او لغمان په ولایتونو کی:

دعامی روغتیا د ښوني کورسونه پرانیستل شوی او په کار بوخت دی

شریعت : درنو لوستونکو ! زموږ خبریال دعامی روغتیا وزارت دپلان رئیس محترم قاري داکتر امین الله «عابد» سره مرکه کړی او دنوموړی ریاست دکار او فعالیت په هکله یې ورڅخه معلومات غوښتی او دغه رپوټ یې برابر کړی:

په پیل کی محترم «عابد» وویل : موږ په روان کال کی یو لړ فعالیتونه پیل کړي چې په هیواد کی د رپوټ وراندی کولو (H.I.S) سیستم بیا راژوندی کړو ، دابوه لویه پروژه ده چې دکار او فعالیت په هکله یې نږدی ٦ میاشتي له نړیوال روغتیایی سازمان سره پرله پسې غونډی او ورکشاپونه په هیواد کی دننه او بهر جوړ شوی چې په نتیجه کی دروان میلادی کال دنوامبر او دسامبر په میاشتو کی وتوانیدو چې یوه دری میاشتنی ازمایښتی دوره دکابل - لوګر - او لغمان په ولایتونو کی پیل

٤ مخ

مؤسسه فوکس با فامیلهاي بي بضاعت پلخمري مساعدت مي نماید

دفتر مؤسسه خیریه فوکس مقیم ولایت بغلان در نظر دارد براي دو هزار و پنجصد فامیل از بي جا شده گان و مستحقین در پلخمري براي چهار دوره مواد غذایي توزیع نماید .

ص ٤

په ترکیه کی دپټووژنو لړی ګړندی شوه

دترکیې پولیسو داوونو نورو مړی کشف کړیدی چې د پل کېږی ددغه هیواد دحزب الله دډلی لخوا وژل شویدی. ددغو او مړو په کشف سره په ترکیه کی د وروستیو دوو اوونیو ښتو دقربانیانو شمیر څلوېښت تنو ته ورسیږی. دغه مړی ددغه هیواد

٤ مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د خوست په اړه پروپاګند:

ژورنالستان دی د ژورنالیزم اصول په نظر کی ونیسی

په ګران هیواد باندی د روسانو د تیری او د هغوی د کورنیو نوکرانو په ضد وسله وال جهاد کی خوله څو تالی څټو او بی وجدانه وطن پلورونکو کمونستانو پرته ټول مسلمان افغان ولس په یو غږ او یو تکبیر سره ګډون وکړ او د کمونیزم خیالی مانی یې ونړولی خو څنی سیمی چې اکثره یې په سرحدی ولایاتو پوری اړه لری په دی اړه بیا ځانګړی ویاړنی او افتخارات لری او د روسانو په ضد او بیا راوروسته د انارشیزم په دوره کی یې داسی قربانی ورکړی او په دومره میړانه یې د اسلامی نظام لپاره قربانی ورکړیدی چې تاریخ به یې دا شهامت ، غیرت او میړانه تل په زړه کی ثبت ساتی چې له دی سیمو څخه یو هم د خوست ولایت دی ، له شک

۲ مخ

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
دبوي ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغاني په پاکستان کې (۳) کلداری
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : $\frac{٤٠٣٨٥}{٧}$ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

څخه پرته ویلی شو چې د خوست خلکو تل د اسلام او هیواد په ملاتړ او ننګه د نورو هیوادوالو په څیر د قدر وړ ګامونه اخستي او د روسانو او د هغوی د نوکرانو په ضد په کي تر نورو سیمو جهاد مخکې پیل شوی او د جهاد د پیل شیبې او ورمې یې تر نورو سیمو مخکې لیدلې دي.

دا اوس چې تقریباً د هیواد پر سلو کې پنځه نوی برخه کې اسلامی نظام حاکم دی نو په دې لویې لاس ته راوړنې کې د نورو هیوادوالو په څیر د خوست ولس هم د قدر وړ ونډه لرلې ده . او د ډیرو خوستوالو شازلمیو وینې هم په کې تویې شوې دي . د خوست مجاهد ولس په خپلو اوږو د افغانستان د طالبانو د اسلامی تحریک چې الحمد لله اوس په اسلامی امارت باندې بدل شوی سپین بیرغ خوست او له هغه ځایه نور افغانستان ته ولیږداوه. خو متاسفانه چې د افغان ولس کورنیو او بهرنیو مخالفینو چې له اسلامی نظام سره دښمنی او حساسیت لري او تل په دې لټه کې دي چې اسلامی امارت ته ستونزې را ولاړې کړي د اسلامی امارت د بې مثاله امنیت، ارزښتونو او لاسته راوړنو په وړاندې د نړیوالو اذهان مغشوش او مترددد کړي کله د اسلامی امارت تر کنترول لاندې ساحو کې د بدامنی خبرې کوي کله د مخدره موادو کله د ... او دا دې اوس یې د یوې بلې ډرامې سناریو ولیکله او هغه دا چې د نړیوالو راډیوګانو له لارې یې چې اکثره یې د همدې استخباراتي شبکو له لارې تمویل او رهنمایي کیږي په ډیر آب او تاب سره داسې خبرونه خپاره کړه چې ګویا (خدای مه کړه) د اسلامی امارت او د خوست د خلکو تر منځ ستونزې پیدا شوې دي یا په اصطلاح خوست بغاوت کړیدی ؟؟ دوی ویلی دي له خوست څخه د بل ولایت طالبان باید وځي که سړی لږ په دقت سره هغو شرطونو ته چې دوی یې د خوست خلکو ته منسوبوي متوجه شي نو ویلی شي چې دا ټول بهتان، ساختګي او د خوست په خلکو پورې تور دي چې له واقعیت سره هیڅ تړاو نلري او ډیرې فني ستونزې هم لري. ځکه د افغانستان اسلامی امارت هم د نورو هیوادونو په څیر ځانته، قانون، دستور العمل او تګلاره لري. په افغانستان کې پخوا هم دا قانون و چې حکومت به څوک چیرې مناسب وباله نو هلته به یې مقررول او دا حتمی نه وه چې د مشرقي سړی دې په مشرقي کې وی او د جنوبي دې په جنوبي کې وی او اوس هم همدا قانون نافذ دی، د خوست ډیر خلک په نورو ولایاتو کې کار کوي او د نورو ولایاتو خلک په خوست کې، همدا راز د ښاري او کرهنیزو ځمکو لپاره هم پلان او نقشه شته چې د هیواد د پرمختګ او ضرورت سره سم عملی کیږي . زمونږ د نړیوالو په تیره بیا په تیره شپه د څنو راډیوګانو له لارې د څنو هغو مطبوعاتو د بې مسؤولیته خبرونو په اړه چې دا ډول خبر یې ورکړی و جدي غبرګون لیدلي او اوریدلي وي، د خوست د ولایت ټولو خلکو د دې خبر په خپریدلو باندې ډیره خواشیني څرګنده کړه او دا خبرونه یې بې بنسټه وګڼل او په کلکه یې رد کړل، د خوست خلکو خبریالانو ته وویل چې دوی په خپله طالبان او د طالبانو ملاتړ دي دوی طالبان د تکبیر په غږ او د ګلانو په ګیډیو بدرګه کړیدي له هغوی سره مخالفت خو څه چې حتی د مخالفت تصور هم نه شو کولی. دوی د څنو راډیوګانو هغه تبصرې چې ګویا د خوست خلک به د پخواني پاچا ظاهر شاه لپاره کار کوي هم په کلکه وغندلي او په ډاګه یې نړیوالو مطبوعاتو ته وویل چې دوی به له بهر څخه هیڅ یو تپل شوی او را لیږل شوی حکومت هم ونه مني د خوست په هغه غونډه کې چې ددې پروپاګند دردولو او د اسلامی امارت د ملاتړ لپاره د همدې ولایت په مرکز کې جوړه شوې وه او بهرنیو راډیوګانو یې هم د ګډون کوونکو شمیر زرګونه وښود دخوست پکتیا او پکتیکا د ټولو قومونو مخورو مشرانو ګډون درلود او ټولو په یو غږ له اسلامی امارت څخه ملاتړ اعلان او د مخالفت خبرونه یې وغندل چې د ټولو نومونه هم راډیوګانو واخستل نو خبر دا مخالف څوک وو ؟ نوم یې څه و ؟ او دا خو هم یو څرګند حقیقت دی چې هر ولس له خپل حکومت څخه هیلې او غوښتنې لري نو غوښتنو تاو هیلو ته د بغاوت نوم ورکول به له انصاف څخه څومره لیرې خبره وي ؟ آیا په نورو هیوادونو کې ملت د خپلو غوښتنو د منلو لپاره د حکومت په ضد مظاهرې هم نه کوي ؟ نو آیا دا بغاوت دی په داسې حال کې چې په افغانستان کې لا خبره د مظاهرو څه چې حتی لوړ غږ ته هم نه ده وتې دا ځکه چې ولس له اسلامی امارت څخه راضي دی او اسلامی امارت هم په افهام او تفهیم باور لري ټولې هیلې یې هماغه دي چې د ولس هیلې ګڼل کیږي.

نو خبرې سرچینو ته په کار ده چې په راتلونکې کې په دا ډول درواغو او بې بنسټه خبرونو باندې خپل اعتبار زیانمن نه کړي او د ژورنالزم اصول په پام کې ولري

پیشنهاد به مسؤولین امور:
یونیفورم !

ابو جاهد

چند ماه قبل موقعیکه محترم مولوي وکیل احمد متوکل بحیث وزیر امور خارجه توظیف شدند روزي در نشستي با محصلین انستیتوت وزارت امور خارجه از آنان سوالاتي در رابطه با درس و مسایل سیاسي داشتند . یك سوال این بود که آیا در جهان کشوري وجود دارد که پولیس آن فاقد یونوفورم یا لباس متحد الشکل باشد ؟ جواب این بود که در تمام جهان فقط افغانستان است که پولیس آن لباس متحد الشکل ندارد .

این مسئله بسیار مهم و در خور توجه است که نیرو هاي انتظامي یك کشور باید داراي لباسي باشند که بتوان آنانرا تشخیص داد و نیز علایمي که میتوان مقام و رتبه آنان‌را از هم تفکیك کرد.

تردیدي نیست که با بمیان آمدن امارت اسلامي افغانستان به وضع نابسامان ناشي از نا امني و چپاول و غارتگري پایان داده شد و طالبان موفق شدند شرایط لازم براي یك زندگي مصؤن را براي مردم فراهم آورند ولي از این نکته نیز نباید غافل بود که در هر جامعه افراد قانون شکن و متجاوز به حقوق دیگران وجود دارد. چنین افراد خود را نظر به شرایط عیار مي سازند تا اهداف شوم خود را تحقق بخشند.

مي گویند شخصي نزد یك عالم جید رفت و لب به شکایت گشود که طالبي دست به دزدي زده است. عالم در جواب گفت : نگوئید طالب دست به دزدي زده است بگوئید دزدي به لباس طالب در آمده است زیرا کسیکه واقعاً طالب است و وقوف به علوم دین دارد، حق خود و حق دیگران را مي شناسد و هرگز از حد خود تجاوز نمي کند.

امروز مسؤولین امر نیز از این شکایت دارند که بعلت عدم وجود یك یونوفورم متحد الشکل براي افراد مسؤول پولیس مشکلات زیاد بروز نموده است زیرا خود را به شکل و چره طالب در آوردن کار مشکلي نیست و وقتي کسي با چنین چهره و قیافه دست به عمل خلاف بزند بدنامي آن متوجه یك فرد نیست زیرا افراد مسؤل انتظامي یونوفورم ندارند و مردم عادت کرده اند تا هر کسي را که شکل و قیافه خاصي دارد بنام طالب بشناسند.

این کار منحصر به طالبان نیست. پس از سرنگوني رژیم نجیب و بقدرت رسیدن حکومت به اصطلاح مجاهدین عده یي از کمونیست ها و عناصر فرصت طلب و چپاولگر خود را به شکل و چهره مجاهدین در آوردند ملیشه ها و افراد کندك هاي قومي نجیب یکسره از صحنه غایب شد و جاي آنانرا همینگونه افراد گرفت . هر یك کلاشینکوفي بر شانه داشت و پکولي بر سر و به این ترتیب حتي آناني که واقعاً مجاهد هم بودند در بازار گرم این چپاولگري بدنام شدند. بسیاري یکسره صف دولت را ترك کردند ولي در هر حال لکه بدنامي بد امن مجاهدین زده شد.

علت این بود که افراد مسؤل انتظامي فاقد یونوفورم بودند افراد از اینکه به لباس پولیس ملبس گردند اظهار شرم مي کردند مي گفتند که ما مجاهد هستیم نه پولیس در حالیکه کسیکه در راه حفظ امنیت و آرامي مردم خود خدمت مي کند و در این راه فقط رضاي خداوج» را در نظر دارد مجاهد است فرقي نمي کند که نام وي را پولیس بگذاریم یا حارندوي یا هر نام دیگر .

امید است مسؤولین محترم متوجه این امر مهم و خطیر گردند و مقامات محترم امارت اسلامي افغانستان در قسمت تدارك یك یونوفورم متحد الشکل که از روي آن بتوان موظفین امنیتي را به سهولت شنا سایي کرد توجه فرمایند . این کار موجب ایجاد نظم بهتر در شهر ها خواهد شد و دست عناصري را که با اعمال خلاف خویش بصورت آگاهانه تا نا خود آگاه موجب بدنام شدن آناني میگردند که شب و روز در خدمت مردم مسلمان کشور خود قرار دارند کوتاه خواهد کرد .

«... نوري خبرې مې په زړه پاتې دي»

محمودالحسن «صدیقي»

خبر دار هر یو له تاسو څخه شپون دی او هر شپون دخپلې رمې مسئول دی.

ای داسلامی جذبی او پاکې عقیدې خاونده دائن چه دمبین دین مبارکې پلوشې په ما او تاخپرې او مونږ ته رارسېدلې دا د [illegible] قربانیو او سر ښندنو برکت دی .

واوره او غوږشه ځوان سعید بن عامر الجمحي (رض) حضرت عمر (رض) ته څه وائي هغه حضرت عمر (رض) ته داسلام او مسلمانانو ښیګڼې داسې بیانوی او داسلامی نظام دپلې کېدو لپاره داسې قربانیو ته ئې ځیرکوی : څه ، ښه وائي.

ای عمره ! زه تاته وصیت کوم چې د خلکو په باب له خدای«ج» څخه وو یریږه او د خدای«ج» په لاره کې له خلکو څخه ویره ونکړې، ستا وینا او ستا کړه دې یو له بل څخه توپیر ونلري ځکه خو را ښه وینا هغه ده چې ورباندې عمل وشي.

ای عمره! د لرې او نږدې مسلمانانو حال ته چه خدای«ج» د هغوی چارې تاته سپارلې دي نظر وکړه او هغوی ته هغه څه خوښ کړه کوم چې د ځان او خپلې کورنۍ لپاره خوښوې، د حق لپاره سختۍ پر ځان ومنه، او د خدای«ج» په لاره کې د ملامتوونکی له ملامتی څخه ویره مکوه .

عمر«رض» وپوښتل ای سعیده دا څوک کولی شي ؟

سعید «رض» ځواب ورکړ ستا په شان سړی یې کولای شي چې خدای«ج» د محمدی امت واګې ورسپارلې وي، او د هغه او خدای«ج» په منځ کې بل څوک نشته پدې وخت کې، عمر«رض» د سعید«رض» څخه دملاتړ او مرستې غوښتنه وکړه او ورته وي ویل ای سعیده ! مونږه د حمص خلکو باندې ستا ټاکونکی یو : سعید وویل : ، ای عمره! د خدای«ج» په لحاظ ما د دنیا له سختی سره مه مخامخ کوه» عمر په غوسه شو او ون ویل : افسوس دی وی تاسی ته دغه کار مو ځما تر غاړې کړ، او بیا ما یواځې پریږدی په خدای«ج» سوګند، چه زه ستا پریښودو نکې نه یم بیابې هغه د حمص والي وټاکه اورته یې و ویل ایاستا لپاره څه معاش ونه ټاکو هغه وویل .

ای امیر المومنینه په معاش څه وکړم، هغه برخه، چه له بیت المال څخه لرم هغه ځما له اړتیا څخه زیاته ده، بیا حمص ته ولاړ ډیر وخت لانه و تیر شوی چې څو تنه باوری خلک امیر المؤمنین ته راغلل او امیر المؤمنین هغوی ته وویل :

تاسی د خپلو بې وزلو او نیستمنو د نومونو لست راکړی څو له هغوی سره مرسته وکړم راغلیو کسانو، خلیفه ته لست وړاندې کړ چې په هغه کې لیکل شوی و :فلانی ، فلانی او سعید بن عامر عمر«رض» وویل سعید بن عامر څوک دی ؟ هغوی وویل زمونږه والي هم بې وزله دی ؟ هو، په خدای سوګند، په هغه باندې ډیرې ورځې تیریږي خو د هغه په کور کې اورنه بلیږي .

عمر «رض» ددې خبرې په اوریدلو سره ډیر وژړل تر دې چې ږیره یې په اوښکو لمده شوه بیا له ځایه پاڅیده ، او زر دیناره یې په همیانی کې کیښودل او وی ویل : سعید ته ځما سلام ورسوی او ورته ووایی چې، امیر المؤمنین تاته دغه مال راولیږه چې خپلې اړتیاوې پرې پوره کړې د خلکو ډله له همیانی سره سعید ته راغله او همیانی یې هغه ته ورواندې کړه سعید همیانی ته وکتل، او له ځان څخه یې لرې کړه او ویې ویل (انا لله و انا الیه راجعون). ګواکې په هغه باندې څه ټکه ښکته شوه، او یا ورته بله څه سخته ستونزه پیدا شوه ښځه یې له ویرې پورته شوه او وی ویل ، ای سعیده څه در پیښ شول ؟ ایا امیر المؤمنین مړ شوی، سعید وویل نه بلکې له دې څخه هم لوی هغې وویل : ایا مسلمانانو ته په کومه پیښه کې څه رسیدلي دي هغه وویل له دې څخه هم لوی . هغې وویل له دې څخه لوی څه شی دی ؟ هغه وویل ماته دنیا راغله تر څو ځما اخرت خراب کړي، او فتنه زما په کور کې پیدا شوه هغې ورته وویل ځان ور څخه خلاص کړه دا خبره بې په داسې حال کې وکړه چې ددینا رو او همیانی موضوع ورته څرګنده نه وه، سعید ویل : ایاته پدې اړه له ماسره مرسته کوې.

هغې وویل «هو» بیا هغه د دینارونه واخیستل او په څو همیانیو کې یې واچول، او پر بې وزلو باندې یې وویشل ډیر وخت لانه و تیر شوی چې عمر بن الخطاب «رض» د خلکو د خبر اخستلو لپاره شام ته لاړ کله چې حمص ته ورسیده د حمص خلک د هغه د سلام لپاره ورغلل او بیا هغه له خلکو وپوښتل چې، تاسې خپل امیر څنګه وینئ؟

خلکو له خپل امیر څخه شکایت وکړ، او د هغه څلورعملونه یې ورياد کړل چې هر یو یې له بل څخه لوی و حضرت عمر«رض» وایي ماسعد او خلک را غونډ کړل ، او له خدای«ج» څخه مې وغوښتل چې د هغه په باب ځما ګومان په بله نکړي د حمص خلکو ته مې وویل چې له خپل امیر څخه څه شکایت لری ؟ هغوی وویل تر هغه چې لمر پورته رانشي دی مونږ ته نه را وځي ما وویل ای سعیده : پدې اړه څه وایې ؟

سعید لږ څه چپ شو او بیایې وویل : په خدای سوګند، ما نه غوښتل چې په دې اړه څه ووایم خبره داده چې زه په کور کې خدمتګار نلرم نو زه پخپله هر سبا اوړه اغږم (لمدوم) او بیا انتظار کوم چې هغه خمیره شي، او بیا ور څخه ډوډۍ پخه کړم، او بیا اودس کوم او خلکو ته راوځم.

حضرت عمر «رض» وایي : ما خلکو ته وویل چې بل څه شکایت لری هغوی وویل دی په شپه کې څوک خپل حضور ته نه راغواړي ما وویل ای سعیده !

په دې اړه څه وایې ؟

هغه وویل په خدای«ج» سوګند، مانه غوښتل چې دا هم ښکاره کړم، ولی خبره دا ده چې ما ورځ د خلکو لپاره او شپه مې د خپل لوی خدای«ج» لپاره ټاکلې ده .

عمر (رض) وایي ما وویل چې بل څه شکایت لری ؟

هغوی وویل دی په میاشت کې یوه ورځ نه را وځي ما وویل ای سعیده ! دا څه دي .

هغه وویل ای امیر المؤمنینه زه خدمتګار نه لرم، او له دې جامو څخه پرته چې په تن کې مې دي بله جامه هم نلرم نو زه خپله جامه په دغه ورځ وینځمه او بیا ورته ګورم تر څو وچې شي، او بیا د ورځې په اخر کې وزم بیا مې وویل چې نور څه شکایت لری ؟ هغو وویل : د یو څه وخت لپاره په ده باندې بل حالت راځي چې بیا د مجلس له کسانو څخه غایب شي ما وویل سعیده ! دا ولی ؟ هغه وویل : زه د خبیب بن عدی «رض» د شهادت په صحنه کې چې لا ایمان مې راوړی نه و حاضر وم،

او ماقریشو ته کتل چې د خبیب له تن څخه یې ټوټه ټوټه .

غوښه پریکوله او ورته ویل یې چې ایاته خوښوي چې محمد «ص» ستا پر ځای وی خبیب (رض) به ویل .

په خدای«ج» سوګند، دا نه خوښوم چې زه د خپل اهل او اولاد سره خوندی واوسم او د محمد «ص» په ځان ازغی ننوځي .

په خدای«ج» سوګند ما هغه ورځ نده را یاده کړې، مګر دا چې ماګومان کړی چې خدای«ج» به ماته بخښنه نه کوي،

او زه تعجب کوم چې ما څرنګه د هغه ملاتړ نه دی کړی نو پداسې حالت کې ماته بیهوښی پیښه شي.

د جاغور ناروغی څومره آسانه وقایه کیدلای شی

غـــازی خــــیل

هغه سیمی چی په اوبو کی بی د آیودین لږوالی موجود وی په سیمه ایزه توګه دنوموړو سیمو په اوسیدونکو کی دجا غور ناروغی لیدل کیږی نوموړی سیمی زیاتره غرنی علاقی دی همدارنګه په هغو هوارو سیمو کی چی خاوره بی آیودین لږه ولری او یابی د ځنګ او به له غرنیو سیمو څخه برابر یږی هم دجاغور ناروغی لیدل کیدلای شی پردی برسیره نه یوازی داچی د آیودین کموالی دجاغور لامل ګرځی ځینی نور عوامل هم شته چی دساده جاغور دمنځته راتګ سبب ګرځیدلای شی لکه د تایروئید په غده کی دنوموړی غدی دهور مون(تایروکسین) دجوړیدو کموالی چی په نوموړی حالت کی کیدای شی یا په تایروئید کی د تایروکسین دجوړیدو انزایمونه کم وی اویا هم ناروغ داسی خواړه چی دجاغور دمنځته راتګ سبب ګرځی په دوامداره توګه ډیر وخوری لکه شلغم ، کرم او داسی نور سابه همدارنګه په حیرانوونکی توګه دآیودین زیات خوراک هم دجاغور سبب ګرځیدای شی چی دلیل یی په کیمیاوی تعامل کی دایودین د زیاتوالی له کبله درامنځته شوبو خندونو موجودیت بللی شی. څرنګه چی دتایروئید دغدی د هورمون (تایروکسین) دجوړښت لپاره چی دانسان دوجود په موجودو تعاملاتو کی بنستیز ارزښت لری د آیودین شته والی ضروری ده نو کله چی دآیودین کچه دپورته یاد شویو لاملونو له کبله ټیټه وی د اړتیاوړ تایروکسین نشی جوړیدای او له دی کبله چی تایروکسین ته وجود خاصه اړتیا لری نو د نوموړی غدی دکنتـــرولوونکی هورمـــون (TSH) چـــی دسردکوپړی له یوی کوچنی غدی څخه افرازیږی او دوینی دجریان له لاری دتایروئید غدی ته رسیږی او هغه دی ته اړ باسی ترڅو زیات کاروکړی او داړتیا وړتایروکسین جوړ کړی . اندازه زیاتیږی او پرتایروئید عمل کوی څرنګه چی په تایروئید کی د تایروکسین دجوړیدو داړتیا وړ اندازه آیودین نشتـــــه نو پوره اندازه تایروکسین نه جوړوی په دی توګه تایروئید TSH له اړخه تر پرله پسی فشار لاندی نیول کیږی ترڅو پوره تایروکسین جوړ کړی او دتایروئید غده هم زیات کار کوی او هم ځان غټوی که وکولای شی دا ړتیا وړ تایروکسین جوړ کړی په نتیجه کی دتایروئید غده غټیږی او دجاغور ناروغی منځته راوړی که څه هم دجاغور ځو ډولونه چی ځینی بی خطرناک هم دی منځته راتلای شی خو دساده جاغور دمنځته راتګ له کبله په ناروغ کی ځینی ستونزی منځته راځی یو خو هغه ستونزی دی چی دهورمون دکموالی له کبله پیښیږی خو وروسته چی جاغور غټ شی نو په خپله جاغور هم روغتیایی کړاوونه رامنځ ته کوی دمثال په توګه ډیر غټ جاغور پرشزن یا وچه مری فشار راوړی او کیدای شی چی تنفسی ستونزی رامنځته کړی ساده جاغور په زهرجن جاغور هم بدلیدای شی چی هغه یو خطرناک حالت ده او ځینی ډولونه بی سرطان هم زیږ ولای شی همدارنګه دښکلا له نظره هم جاغور چندان ښه نه بریښی. دجاغور له منځته راتګ څخه د ژغورنی لاره ډیره آسانه او ارزانه ده او هغه دخوړلو له مالګی سره دآیودین یوځای کول او دآیودین لرونکی مالګی استعمالول دی. دانسان د آیودین ورځنی اړتیاله سلو څخه تر دوه سوو مایکرو ګرامه پوری اټکل شوبدی چی کولای شو له ۱۰۰۰ ګرامه دخوړلو مالګی سره دپتاشیم آیوداید د یوه ګرام له یوځای کیدو څخه داسی مالګه جوړه کړو چی هغه د آیودین دکموالی مخنیوی وکړی.

کله چرک و پیامد های خطرناک آن

لینا «مشفق»

مرض کله چرک که یکي از پرابلم هاي عام صحي در جوامع رو به انکشاف و عقب مانده مي باشد یکي از عوامل مهم عقامت در مردان و زنان بشمار میرود. این بیماري که از سبب یکنوع ویروس بوجود مي آید از اثر آن غده پروتید (دو عدد غدهٔ بوده که لعاب دهن تولید و به جوف دهن انتقال میدهد) مورد حمله ویروس قرار گرفته و به التهاب معروض مي گردد . غدوات مذکور پندیده گي زیاد کسب نموده و مریض شکل و چهره افراد خیلي چاق را به خود مي گیرد مرض توسط افرازات و لعاب دهن به افراد دیگر فامیل نیز سرایت مینماید. مریض خیلي خسته بوده تب شدید داشته و بي اشتهایي ویرا ضعیف مي سازد مرض ممکن در ظرف یك هفته شفا یاب گردد اما نسبت اختلاطات و پیامد هاي خطرناك آن خیلي قابل توجه بوده که باید والدین گرامي متوجه آن باشند، مصایب اعضاي تولید کننده هورمون هاي جنسي در مؤنث و مذکر (تخمدان ها و خصیتان) از جمله اختلاطات مهم مرض بشمار میرود که در نتیجه آن امکان دارد بیماران عقیم گردیده و در آینده قابلیت توالد و زایمان را از دست دهند .

بدین دلیل خیلي توجه لازم است تا اطفال خوش را از جاهائیکه در آن مناطق موجودیت مرض کله چرك حتي قابل اشتباه نیز باشد دور نگهداریم ، اگر طفل مصاب مي گردد ویرا از اطفال دیگر دور نگهداشته وسایل و ظروف مورد استعمالش را باید علیحده نمود غذا هاي مقوي همراه با مایعات زیاد مثل شیر، شورباي ترکاري، آب برنج، چاي و غیره براي مریض داده شود . طفل بیمار را از رفتن به مدرسه و جا هاي دیگر منع باید سازند تا بیماري اش به دیگران انتقال نه نماید اگر تب مریض روز بروز زیاد تر مي گردید و وضع مریض رو به وخامت مي گذاشت باید عاجلاً به دکتور معالج مراجعه صورت گیرد.

روغتیا او ټولنه

بي اعتنايي در برابر واكسين دشمني با اطفال است

برېشنا وړانګه

روز گذشته یکي از دوستانم از وضع ناهنجار صحي یك از اطفالش برایم قصه نمود. موصوف در جریان سخنانش اظهار داشت : دخترك چهار ساله دارم اما متأسفانه که پاهایش خیلي نازك بوده و توانایي ایستادن را تا حال کسب نکرده است، برادر کوچکش راه مي رود اما او جا به جا نشسته است، از وي سوال نمودم که آیا براي دخترك مذکور واکسین هاي دوره طفولیت را تطبیق نموده بودید در جواب گفت : نه خیر، دلم بسیار غصه نمود و حتي میخواستم تا یك سیلي جانانه بر رویش حواله کنم اما خود را کنترول نموده و برایش گفتم : برادر طفلت را به دست خود فلج ساخته اي، خیلي امکان دارد که دخترك به مرض پولیو یا فلج اطفال مصاب گردیده باشد و ممکن تا اخیر عمر رنج این بي پروایي شما را آزارد دهد باز هم مأیوس مباش با دکتوران معالج در تماس باشید امید است تا آنها در راه احیاي مجدد دخترت با شما همکاري نمایند همچنان برایش توصیه نمودم که به هیچ صورت باید تطبیق واکسین را براي اطفال خویش ترك نه کند ورنه به مصیبتي دچار خواهد گشت که هیچ علاجي برایش پدید نخواهد توانست.

والدین گرامي : واکسین، زندگي اطفال شما را در برابر امراض کشنده و فلج کننده وقایه مي نماید و هیچ ضرري به صحت اطفال ندارد اگر میخواهید که اطفال عزیز تان از امراض توبرکلوز، پولیو یا فلج سرخکان، سیاه سرفه دفتري و تیتانوس، در امان باشند باید متعاقب تولد طفل به مراکز واکسین مراجعه نموده و اطفال تانرا واکسین نمایید همچنان در کمپاین هاي ملي واکسیناسیون که به منظور تقویه اثرات واکسین هاي قبلي و واکسین نمودن اطفالي که واکسین نه گردیده اند صورت میگیرد بدون معطلي اطفال تانرا به مراکز واکسین حاضر نمایید تا مبادا فردا پشیمان شوید.

انکشافات جدید در عرصه علوم طبی

دملاریا دناروغی پر ضد هڅی ګړندی شوی

طبی پوهانو دلویدیځی افریقا دګمبیا په ښارکی څرګنده کړه چی هڅوی به دملاریا دناروغی ددرملنی لپاره داسی لاری و لټوی چی ناروغی ونکړای شی د درملو په وړاندی مقاومت وکړی.

ددغـــو پوهانو په وینا : یو ډول نوی درمل چی دملاریا له ناروغی سره دمجادلی په خاطر برابریږی کــولای شی په نورو ســیمــو کی ددغی ناروغی له خپریدونه هم مخنیوی وکړی.

دانګلســـتــان دیوه طبی مــرکــز په یوه رپوټ کی راغلی دی چی دملاریاله ناروغی سره دمجادلی لپاره ددرملو په باره کی څیــړنی او تحــقــیــقــونه دوام لری.

ترک تشــویش عــامل مــهـم جلوگــیــری سرطان

محققان اعلام کرده اند که حفظ بهداشت کامل سیستم عصبی ازمتبلا شدن فرد به مرض سرطان جلوگیری می کند.

به گزارش آژانس خبری فرانسه محققان به بررسی ومشاهده بیش از دو هزار مورد سرطان به این نتیجه رسیده اند که هشتاد در صد از بیماران قبل از مبتلا شدن به سرطان با فشار های جدی روحی و عصبی رو-برو بودند. به گفته محققان هنگامیکه سیستم عصبی دیگر قادر به کمک به بدن در تطابق با محیط اطراف نیست سلولهای سرطانی تکثیر می شود.

این موضوع نشان میدهد کسانیکه توانایی خود را برای طبعی فکر کردن ویا عکس العمل نشان دادن در مقابل فشار های عصبی غیر معمول از دست داده اند بیشتر به سرطان متبلا می شود.

منابع آب شیرین روبه کاهش است

کارشناسان مسایل آب هشدار داده اند که حجم منابع مورد نیاز آب شیرین درسراسر جهان روبه کاهش است . در مسوده گزارش کمیسیون جهانی آب مربوط به سازمان علمی آموز شی و فرهنگی ملل متحد «یونسکو» آمده است در صورت تداوم عملکرد مخرب کنونی بشر نابودی و زوال ایکو سیستم ها وفقدان تنوع محیط زیست در دراز مدت حیات نسل آینده را با خطر روبرو خواهد ساخت.

در گزارش از دولت ها وسازمان های بین المللی بخش خصوصی وافراد خواسته شده است هرچه سریع تر جهت اتخاذ تدابیر لازم از جمله ابتکار و دستاورد ها ی مربوط به ذخیره سازی آب و به کار گیری شیوه های صرفه جویی این نعمت الهی (ج) به مقابله مشکلات ناشی از کمبود آب برخیزند.

انار یا دواخانه سیار

تحقیقات علمی طبی نشان داده است که خوردن انار بسیاری از مریضی ها را علاج می کند. بطوری که آب آن برای تقویت قلب بسیار مفید است .

آب انار دیواره، معده را در مقابل امراض حفظ می کند و در تصفیه خون نقش برجسته ای دارد.خوردن انار برای سنگ گرده نهایت سودمند است آنرا دفع می کند از گل انار اطبا.برای ساختن ادویه، ضد اسهالات اطفال استفاده می برند. یک دانشمند مصری می گوید نوشیدن جوشانده، پوست انار هم برای بر طرف ساختن امراض روده خیلی مفید واقع می گردد و پودر پوست انار امراض جلدی را مداواست . دانشمندان عربی انار را بحیث دواخانه سیار تعریف کرده است .

چهار تَن کر دوباره شنوا شدند

روزنامه، انگلیسی زبان تایمز آف اند یا چاپ دهلی جدید به نقل از یک متخصص امراض گوش و گلو در دهلی جدید گفت : او توانسته است شنوایی چار نفری را که دچار عارضه، کری شده بودند، بر آنها دوباره برگرداند. او گفت: فعلاً این عمل تنها در چند کشور خارجی انجام می شود و جنبه، عام ندارد زیرا که این عمل مصارف گزافی را ایجاب می-کند. او گفت درین عمل جراحی یک دستگاه شنوایی حلزون مانند در پشت گوش در سرمریض قرار داده می-شود که توسط یک سیستم باریک بدستگاهی در خارج بدن که تجزیه و تشخیص صدا را انجام می دهد متصل می شود.

واحد سیار عملیات جراحی ساخته شد

انجنیران مالیزیایی با همکاری یک تیم طبی شفاخانه، دولتی کوالالمپور یک واحد جراحی سیار را طراحی وساخته است . مدیر عمومی شرکت انجنیری جان سون مالیزیا گفت : این واحد بطور کامل درمالیزیا ساخته شده وبیش از هشتاد وپنج-فیصد مواد خام آن از منابع داخلی تامین گردیده است . ساخت هر یک از واحد های جراحی سیار مالیزیا شش ماه بطول انجامیده ونزدیک به پنج صدوبیست وشش اعشاریه سه هزار دالر امریکایی مصرف را در برداشته است این واحد های سیار جراحی باهمه امکانات لازم برای عمل جراحی از تخت خواب مریض گرفته تا چراغهای جراحی ومحل افزار جراحی ولوله کشی های هوا و آکسیجن مجهز هستند وبه طریقی طراحی شده اند که می توانند به سرعت به محل یک حادثه یا تصادف حمله ورشوند تا در صورت لزوم جراحی در محل انجام شود.

درنو لوستونکو!

دا دي له وعدي سره سم د پوښتنو لړي په لاندي پوښتنو سره پیل کوو :

۱- مکه مکرمه په کوم کال فتح شوه ؟

۲- حضرت محمد «ص» له هجرت نه وروسته څو واري حج کړي ؟

۳- د امام بخاري «رح» اسم کنیه څه دي ؟

٤- د طب نبوي کتاب مولف څوک دي ؟؟

٥- هجري تاریخ د چا لخوا پیل شو ؟

ستا سي د ځوابونو په هیله

د کابل، لوګر او لغمان په ...

کړو . په دي آزمایښتي دوره کي دفورمي جوړول ، دناروغیو ثبتول ، دناروغیو لټه پیژندنه ، او دغه راز په پښتو او دري ژبو دیو لړ کتابونو چاپ او خپرول او دراجستر په نامه دیوه ځانګړي کتاب ترتیبول شامل دي. همدا اوس زمونږ روزنیز کورسونه دکابل - لوګر او لغمان په ولایتونو کي پرانیستل شوي او په کار بوخت دي.

دي زیاتوي . داپیـد یمـو لوجیـکل سرویلانس په نامه مو یو پروګرام پیل کړی چي په هغـه کي دشپږو وژونکو ناروغـیو (ملاریا ، محرقي ، حاد اسهالاتو ، تیتانوس ، سـرخکان او دیني ویروسي التـهـاب په وړاندي مبـارزه کـیږي دنوموړي پروګرام دکاربهیر روان دي چي دلوی خدای (ج) په مرسته به په کابل او ټول هیواد کي دپورتنیو وأونکو ناروغیو په بشپړه توګه مخنیوی وشي.

ده زیاته کړه : په هغه سیمینار کي چي سږ کال په مصر کي د Role Back Malaria تر عنوان لاندي دایر شـو . دافـغـانسـتـان داسلامي امارت دعامي روغتیا وزارت هیأت چي په ترکـیب کي يې زه هم شـامل وم په نوموړي سیمینار کي مو برخه واخیسته او په

افـغـانسـتـان کي د مـلاریا له ناروغی نه درامنځته شویو ستونزو په هکله مو خپل غږ دسیمینار دګډون کوونکو غوږونو ته ورساوه ترڅو په دي برخه کي له مونږ سره مرسته او همکاري وکړي . دسیمینار دګډون کوونکو له لوري مونږ ته ډاډ راکړل شـو . انشـأ الله چي نتایج به يې ښه وي.

په پای کي محترم قاري ډاکتر امین الله عابد زیاته کړه : دعالیقدر امیر المؤمنین دځانګړي پاملرنی له امله او دعامي روغتیا وزارت دلزوم دید له مـخي د پانګي اچوني په برخه کي دریاست الوزرأ دمحترم مقام له خوا ددوه ملیارده افغانیو بودیجي منظوري راکړل شوي ده . البته تراوسه پوري دسپین بولدک دولسوالي د دریم نمبر کلینیک دجوړولو لپاره د ۰۰ ٤١٠٨٨٨٥ افـغـانیـو تخـصـیص اجرأ شـوی او په پلان کي دشـاملو پروژو دسـرته رسولو په برخـه کي هم یو لړ کـارونه تر سره شوي.

دیادوني وړ ده چي دروغـتـیـایي مـعلومـاتو دریوټ وړاندي کـولو دسـیـسـتم دسمبالتیا په خاطر له تجهیزاتو سره یوه پایه کمپیوتر د WHO له خوا مرسته شوي ده.

سید یوسف

په ترکیه کي ...

داستانبول په ښار کي دیوه کور له کتني پوړ نه ترلاسـه شویدي. په عـین حـال کي مـسلمـانو مبارزینو دترکیې په ګوټ ګوټ کي داسلام تر پردي لاندي هر راز تاوتریخـوالي غندلي دي. دوی وویل ترور او ګډوډي له مذهب سره هیڅ راز اړیکي نه لري .

د ګروزني د ...

دمجاهدینو خپرندویې اداری زیاته کــړې ده چي دروس برغـل داسمبالونکي جنرال اوس دچیچنیا دجنوب پلو غـریبـزی سیـمـی ته لیـږدول شـوی او دنوری پلټنی او څارنی په حال کي دی، هـمدارنګه اداری دنورو دوو نظامی افـسـرانو دنیو لو خبره هم کړی ده.

مـجـاهدینو ټینګـار کـړی چي دوی په پلازمینه ګروزني باندي په کلکه واکمن دي او د روسي بندي خـلاصـون بې ناشـونی ګـڼلی دی ، دوی یادونه کـړی چي چیـچنیـایی قـاضـیـان به دنومـوړي جنرال راتلونکي برخلیک ټاکي ، کله چي دده دورۍسـتـیـو پوښتنو په هکله ځوابونه وغېږل شي.

د تورخم په سرحدي ...

کي دجومات فضیلتونه بیان کړل بیا تورخم دامنیی قـوماندان محترم ملا عبدالرحمن (فیاض) له خوا ددی جومات دبنسټ ډبره کیښودل شوه دا جومات د محلي سوداګرو په مرسته جوړیږي او لمړني لګښتونه یې محترم حاجي افلاطون ، حاجي محمد امین ، او قاری میر محمد په غاړه واخستل چي په کور ودانی سره ومنل شول.

د بشري حقوقو نړیوالي ...

دهغو وحشیانه اعمالو مخنیوی وکړي چي دچیچنیا په مسلمان ملت تر سره کیږي ددي اسلامي کمیټي په قول هغه څه چي دروسانو لخوا دچیچنیا په مسلمان ملت تر سره کیږي په حقیقت کي هم ناوړه عمل دي چي د ټولو اسلامي ، انساني او بشري موازینو خلاف دي دروسانو دغه بې شرمانه تیری په حقیقت کي دټولو اسلامي اصـولو ، انسـاني او بشـري مقرراتو خلاف یو عمل دي ، همدارنګه دهغو ټولو نړیوالو قـوانینو ، بشـری تړونونو او دانساني لومړنیو حقوقو څخه سرغړونه ده کوم چي په روسانو بې درناوی لازم دی ، ځکه چي **روسـان دملګرو ملتـو په ټولنه ، دامنیت په شـوری ، او ټولو هغـو ټولنو کي غـړیتـوب لري چي دنړی** والي سولي او هر سایني ځارنه کوي.

سیمینار آموزشي ...

تذکره به پایان رسید.

در این سـیـمینار عـلاوه از منسـوبین ریاست ثبت و احـوال نفـوس نمـاینده گـان وزارتهـاي عـدلیـه، اطلاعـات و کلتـور ، مـخـابرات ، پلان، تعلیم و تربیـه و ریاست هاي عمومي اداره امور و احصـائیه مرکزي نیز شرکت داشتند.

مسجد جامع مرکزي ...

۳۵۰ نفـر نمـاز گـذار را در یك وقت دارا میباشد.

این مـسجد جامع دیروز توسط محـترم مولوي عبدالمنان والي بادغیس در حالیکه جمع کثـیري از مردم و مـسـؤولین واسـوالي مقر آنولایت حاضر بودند افـتـتاح و مـورد استفاده نماز گذاران قرار گرفت .

مؤسسه فوکس ...

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : طي ملاقاتیکه محترم محسن بلوچ معاون دفتر کمکهاي بشري فوکس در افغانستان با محترم ملا عبدالرزاق نقشبندي مـعاون ولایت بغلان و با مـسـؤولین اداره انکشـاف دهات و صحت عامه آنولایت نمود پیرامون حل مـشکلات ادارات مـتـذکـره و چگونگي نحوه توزیع کمکهاي بشري و باز سازي تأسیسات عام المنفعه در آنولایت تبادل نظر صورت گرفته و مـعـاون اداره فـوکس ضـمن وعـده همکاري در عرصـه هاي متذکره یاد- آور گردید که طي هفته جاري براي دو هزار و پنجصد فامیل از بي جا شده گان و مستحقینکه شامل پانزده هزار نفر میشود براي چهار دوره گندم و روغن ترا توزیع خواهد کرد .

مقدار ده کیلو ...

اخیـراً مقدار ده کـیلو چرس را از مربوطات آنولسوالي به دست آورده و به خاطر عبرت کساني که دست به جمع آوري ویا خرید و فروش چرس مي زنند بعد از اداي نماز جمعه در محضر هزاران تن از اهالي ولسوالي ارگون، چرس به دست آمده توسط مسؤولین قوماندانی امنیه حریق گردید.

له روسي چارواکو سره ...

سـازمـان لـه سـر منشـي کـوفي عنان سـره دخبرو په بهیر کي دچیچن جګړی د پایته **رسـولـو په برخـه کي هیڅ راز نظر ندی ځرګند کړی.**

یو روسي جنرال د ورځپاڼه لیکونکو په وړاندي اعـتـراف کـړیدي چي له ځلورو میاشتنیو وحشیانه او پرله پسی بریدونو سره سره اوس هم د چیچن د مقاومت ځواک **مات شوی ندی.**

ده زیاته کــړه د چیـچـن د قوماندانی مرکز اوس هم فعاله دی او د خپلو سنګرونو غوڅه دفاع کوی.

له بلی خــوا د الـمــان په پارلمــان کی د ټولو ګــوندونو ویندویانو ددغه هیـواد د بهرنیو چارو د وزیر او سکارفیشر د هغه نظر ملاتر کړیدی چی باید روسیه د ډیپلومـاسی له لاری د چیـچن قضیی ته د حل د یوی لاری موندلو ته اړ کړای شي.

د محترم رئیس الوزراء ...

مرستي وکړي .

محترم رئیس الوزرا د خپلي ډاډګیرني او خواخوږي د مراتبو د ځرګندولو په ترڅ کي یې د لوي خـداي «ج» له دربار نه هیله کړیده چي شهیدانو ته جزیل اجر او ددغي پیښي پاتي کسانو ته جمیل صبر او ټپیانو ته بیړني روغتیا وروکړي.

محترم مولوي عبدالکبیر ...

-المنفعه امارت اسلامي به قدرداني یاد آوري نموده و بر همکاري همـه جانبـه خـویش در جهت تعـمـیل و تطبیـق کـامل آن تاکـیـد نمودند.

همچنان ایشان از مشکلات و پرابلم هاي محیطي شان یاد آوري نموده و توجه محترم معاون رئیس الوزراء را در زمینه خواسـتـار گردیدند .

سـپس محـترم مـعاون رئیـس الوزراء از احساسات نیك و همکاري هاي همه جانبه آنها قـدرداني نـموده و در رابطه به حل مـشکلات محـیطي شان اطمـینان دادند.طبق یك خبـر- دیگر، محترم معاون رئیس الوزراء و رئیس تنظیـمه زون شرق دیروز در شوراي مرکزي علمـاي کرام ولایت ننگرهار اشتراك ورزیدند شوراي متذکره با تلاوت آیات متبرکه از قـرآن مـجـیـد آغـاز گـردیده سـپـس روي موضـوعـات شـامل اجندا غـور و تبـادل نظر صورت گرفته و در بخشهاي مختلف تصامیم اتخاذ گردید در این شوراي محـترم مولوي- صـدراعظم مـعـاون تنظیـمـه زون شـرق نیـز اشتراك نموده بودند.

د چیچن د جګړي د ...

او سـپین ږیری و د مـسکو د واک غوښتنی د پراختیا د سیاست قربانی شویدی او دوه سوه شپیته زره تنه نور مهاجر شوی دي.

د خپرو شویو شمیرنو له مخی د چیچن جـمـهـوریت زر تنه مـسلمـان مـجـاهدین د نابرابرولوریو په جګړه کي شهیدان شویدي چي د ځینو منابعـو دوینا لـه مـخـي د روسـانو د تلفـاتو شمیـر له دغي شمیـرني نه څو برابره زیات دي.

د یوی احصـایی له مخی په تیـ. اوری کي ددغه هیواد د جګړو له پیل نه راهیـ.ـي بولس زره تنه روسي پوځیـان وژل شـوي پنځه سـوه زغـروال وسـایط د ولس جنګی ا ,ټکی او ځلویښت توپ لرونکی هیلیکوپتروز ،له منځه تللی دی او د مسلمانو مجاهدینو : مرتـ ژ.ـلو شمیر په دغي موده کي ځلور سوه تنه هیدـن او په دغه شمیر د ټپیانو رپوټ وکړ .. ی دی خو د غیر پوځیانو مرګ ژوبله تر : غي ـمداز ن ډیره زیاته ده .

د روسـانو لخـوا د چیچن د مسنـد ـاـو د کورونو او ښارونو د ویجاړولو بهیر د پ ـوا په شان دوام لري د روسي پوځیانو ورځني بر ـ ونه د ګروژني په ښار کي د پرمختګ لپاره د ـخوا په شـان دوام لري چي د مـسلمانو مجاه ـنو لخوا دفع کیږي او بوازي په تیره اوونۍ ی د روسـیـي څه د پاسـه ځلور سـوه دیرش تنه پوځیـان وژل شـوي او یو زرو ځلور سوه پنځه پنځوس تنه نور يې ټپیان شویدي.

د ګوون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتني	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

تبصره

مؤسسات خیریه بین المللي باید محتاط باشند!!

از چندي بدینسو سخن گویان مخالفین ا.ا.ا تبلیغات بي- مفهومي تحت عنوان موجودیت مهاجرین در دره پنجشیر و دره صـوف را به راه انداختـه و بصـورت متـداوم از طریق رسانه هاي خبري جهان مؤسسات خیریه بین المللي را به مساعدت آنها دعوت نموده اند که متأسفانه بعضي از مؤسسات خیریه نا آگاهانه در دام فریب و تبلیغات بي اساس نطاقان احمد شاه مسعود گیر آمده و مواد امدادي هنگفتي به مناطق تحت اسارت آنها انتقال داده اند همچنان جمـعي از دشمنان و مخالفان بین المللي ا.ا.ا بصورت آگاهانه و با اسـتفاده از این چانس مداخله، شب و روز کمکهاي تـسلیحاتي و نظامي شانرا تحت عنوان مساعدت به مهاجرین شمال ارسال داشته و بدینوسیله آتش تداوم جنگ را در بعضي از مناطق شمال شرق افغانستان شعله ور نگهداشته اند. چنانچه ملاحظه میگردد مؤسـسـات خیریه منطقوي و بین المللي هنگام تعمیل پروگرام هاي خـیریه شان در مناطق دیگر افغانستان نخست به سروي منطقه و جمع آوري ارقام پرداخته و متعاقب دیدو باز دید هاي متواتر تصمیم مساعدت را در زمینه اتخاذ مینمایند. اما متأسفانه که در قسمت معامله با موجودیت به اصطلاح مهاجرین در پنجشیر و دره صوف اصل فوق الذکر در نظر گرفته نشده و محض در نتیجه تبلیغات سخن گویان احمد شاه مسعود بعضي از مؤسـسـات خیریه به ارسال کمك هاي مختلفه به مناطق مذکور پرداخته و بدین وسیله از طریق غیر مستقیم مخالفین ا.ا.ا را اکـمال مـینمـایند اینکه مؤسـسـات مذکـور چرا نخـست معلوم نمینمایند که آیا واقعاً در پنجشیر و یا جا هاي دیگر مربوط به احمد شاه مسعود مهاجرینی وجود دارند یا نه ؟ و اگر احیاناً هستند تعداد شان چقدر است؟ و آیا در این راستا تبلیغات مخالفان ا.ا.ا که ادعا مي نمایند در حدود ۴۰-۵۰ هزار نفر مهاجر در پنجشیر به سر مي برند حقیقت دارد یا خیر ؟ همه و- همـه پرسش هایي است کـه باید به آن توجـه صـورت گـرفت و مسؤولین موسسات خیریه مذکور باید بعد از کسب معلومات در زمیـنه دست به اقـدام شـوند نه بصـورت عـاجل و بدون کـسب معلومات .

تا جاییکه حقیقت است و بنا بر اظهارات شاهدان عیني که اخیراً از مناطق تحت اشغال مسعود دیدن نموده اند گفته مي شود که تعداد پناهنده، گان شمالي به پنجشیر فعلاً از حدود ۷۰۰ نفر تجاوز نمي نماید و براي اعاشه و مساعدت تعداد مذکور فقط چند تن مواد کافي بود نه کاروانهاي حامل صد ها تن مواد امدادي و پرواز هاي متواتر و متداوم هواپیما هاي اجنبي بر فراز مناطق فوق الذکر. اگر بیطرفانه قضاوت صورت گیرد هر صاحب عقل سلیم باید حکم نماید در شرایط کنوني که سرماي شدید زمستاني در اکثریت مناطق شمال خصوصاً دره پنجشیر حاکم است و در دره پنجشیر به جز منازل رهایشي خیلي تنگ و تاریك که آن هم براي بود و باش اهالي منطقه کفایت نمیکند جاي بود و باش موجود نیست چگونه منطقي خواهد بود تا قبول کنیم مهاجرین با این کمیت در آن منطقه پناه گزین گردیده باشند، بدون شك در اوضاع جوي فعلي در زیر خیمه و چادر نیز شب و روز سپري گردیده نمیتواند بنأ هیچ حقیقت ندارد تا بپذیریم که در پنجشیر چندین هزار مهاجر به سر برده و سازمانهاي خیریه مسؤول کمك به آنها هستند !!

با توجه به حقیقت موضوع لازم است مؤسسات خیریه تلاش نمایند تا عوض خیر براي مردم افغانستان شر به ارمغان نیاورند زیرا اموال امدادي که به پنجشیر و یا جا هاي دیگر تحت اسارت ملیشه ها میرسد عوض مهاجرین در گدام هاي ملیشه ها ذخیره گردیده و غرض امرار حیات جنگجویان باغي بمصرف میرسد و سزاوار هم نیست تا مؤسسات خیریه کورکورانه عمل نموده و با ملت ستمدیده افغانستان بنام کمك با باغیان دشمني نمایند اگر مؤسسات متذکره همچو حقایق و مصالح را در نظر نه گرفته و آگاهانه تحت چتر مساعدت به مهاجرین، مخالفین ا.ا.ا را تقویت مینمایند بر خلاف آمال خیرخواهانه شان عمل نموده و خدمات شان قابل انتقاد و توقف پنداشته خواهد شد و بعد از این براي مؤسسات خیریه نیز اعتبار واقعي بشر دوستي باقي نخواهد ماند !!

SHARIAT WEEKLY

Published by :

Islamic Emirat of Afghanistan

Chief Editor: *Abdurrahim Saqeb*

Printed by: Emirat Printing Press